الدرس التاسع | نهم درس

سنن رواتب: | رواتب سنت

د مسلمان سړی او ښځی دپاره مستحب دی چې په حالت د حضر کښې د دولسو رکعاتو حفاظت وکړی ، څلور رکعاته مخکښې د ماسپخین نه ، دوه رکعاته پس د ماسپخین نه ، دوه رکعاته دماښام نه پس ، دوه رکعاته د ماسخوتن نه پس ، او دوه رکعاته د سَهر د مانځه نه مخکښې ، د ام حبیبه رضی الله عنها نه روایت دي ، فرمائی : ما د رسول اللهﷺ نه اوریدلی دی :«ترجمه » نشته یو بنده مسلمان چې د الله دپاره دولس رکعاته سنت وکړی د فرض نه علاوه ، مګر الله پاک به ورله په جنت کښې کور جوړ کړی ، او یا به ورله په جنت کښې کور جوړکړې شی ، په سنتو او عامو نوافلو کښې د یو مسلمان د پاره افضل او غوره داده چې کورکښې اداء، شی(رواه مسلم :٧٢٨) د جابر بن عبد الله رضی الله عنه نه روایت دی ، چه رسول اللهﷺ فرمائی:«ترجمه» کله چې یو تن خپل مونځ په جومات کښې اداءکړی ، نو څه حصه دمونځ دِی کور دپاره پریږدی ، ځکه چې ددی مونځ د وجی نه الله تعالي په کورکښې خیر او برکت راولی ، او بل حدیث د بخاری او د مسلم کښې راغلی دی ، د زید بن ثابت رضی الله عنه نه روایت دی : ترجمه : غوره مونځ د سړی هغه دی چې په کور کښې وشی سیواء د فرض مونځ نه متفق علیه

.د وتر مونځ: د مسلمان دپاره د وترو کول سنت دی خو سنت مؤکده دی د وتر د کولو وخت د ماسخوتن مونځ نه پس تر د صبا راختلو پوری دی ، او غوره وخت د شپې آخره حصه ده چې څوک خپل ځان باندی د راپاسیدو اعتماد لری ، دا هغه سنت دی چې رسول اللهﷺ وربادنی په سفر او حضر کښې همیشوالی کولو ، د ټولو نه کم وتر یو رکعت دي ، ځکه چې رسول اللهﷺ به د شپې یولس رکعاته کول په حدیث د عائشه رضی الله عنها کښې راغلی دی: «ترجمه » رسول اللهﷺ د شپې مونځ یولس رکعاته کولو یو رکعت به ئی پکښې وتر کولو ، د شپې مونځ دوه دوه رکعاته دی الحدیث رواه مسلم: ٧٣٦) ، په حدیث د عبد الله بن عمر رضی الله عنه کښې راغلی دی:«ترجمه » یو سړی د رسول اللهﷺنه دشپې د مانځه په باره کښې تپوس وکړو رواه البخاري ومسلم. ، رسول اللهﷺ وفرمائیل : د شپې مونځ دوه دوه رکعاته دی ، که څوک د صبا د راختلو نه ویریږی نو یو رکعت دِی وکړی دغه مخکښې ټول مونځ به ورله وتر کړی .دعاء قنوت په وترو کښې کله کله د رکوع نه روستو وئیل پکار دی ، د حسن بن علی رضی الله عنه د حدیث د وجی نه چې رسول اللهﷺورته دعاء قنوت الفاظ وښودل ، لیکن همیشوالی به پری نه کوي ، ځکه چې څومره صحابه کرامو د رسول اللهﷺ مونځ نقل کړیدي هغوی پکښې دعاء قنوت ندي ذکرکړي مستحبه طریقه داده چه که د چانه د شپې مونځ فوت شی نو د ورځې ئې قضائی کولي شی ، که دوه رکعاته وی او که څلور وی تر دولسو رکعاتو پوری د نبی کریمﷺد عمل دوجی نه .